تحصیل
د لغمان پوهنتون علمي، څېړنيزه مهالنۍ خپرونه
۱۴۰۲ ل کال لومړۍ ګڼه، تله (میزان)

# د اسلامي شريعت له مخې د شاړو ځمکو آبادول

څېړونکی: نامزد پوهنيار عزيزالله ظياء، اسلامي تعليمات شرعياتو پوهنځی لغمان پوهنتون، افغانستان.


## لنډيز

شاړې ځمکې د هغې خرابې او نا آباده ځمکې د ودانولو څخه عبارت دي، چې مالك نه لري او هېڅوك ترې ګټه نه اخلي. د ودانولو څخه يې مفهوم دا دی چې د آبادولو او يا په هغې کې د ونو په کېنولو ، يا په کښت او اوبه کولو سره يې د ګټې وړ دي وړ وګرځوي.

د شاړو ځمکو د آبا دولو په اړه شرعي نصوص شتون لري او ابادول يې ثابت دي، بېلابېل ډولونه او شرطونه لري چې په تفصيل سره ذکر شوي دي، د شاړو ځمکو د معدنونو حکم دادی چې معدنونه په دوه لويو برخو وېشو لومړی څرګند کانونه، دويم پټ معدنونه، لومړی ډول ظاهري معدنونه؛ د احنافو او حنابله فقهاوو په اند دا ډول معادن د ځمکو د ابادولو په واسطه د چا ملکيت کېدای نه شي او نه يې چاته ببنل او وړيا ورکول جواز لري، د امام شافعي رحمه الله په اند که آبا دوونکي ته دا معلومات نه وي چې دلته معدن شتون لري او د ځمکې د آبا دېدو په وخت کې په کې معدن پيدا شي د آبا دوونکي ملکيت کيږي،که چېرې ورته له مخکې معلومات موجود وي، چې دلته معدن شتون لري بيايې ملکيت نه کيږي، د امام مالك رحمه الله نظر دا دی: چې د دې واك او صلاحيت د مسلمانانو د امام سره دی، که چاته يې ببښي او كه همداسې يې پرېږدي.که هغه په مملوکه ځمکه کې وي او که په غير مملوکه ځمکه کې.

دويم باطني( ناڅرګند )معدنونه که د دې معدني جوهر تصفيه وغواړي او که نه، يوازې په کندلو او عمل سره د دې څوك مالك جوړېدای نه شي؛ ليکن که يوڅوك مواتي ( نآباده ) ځمکه احياء او آباده کړي او په هغې کې باطني معدن ښکاره شي؛ دا شخص يې مالك ګرځي.


**کليدي ټکي**: د شاړو ځمکو پېژندنه، ډولونه، شرعي حکم، شرطونه او د ابادولو حکمتونه يې.

## سريزه

الحمد لله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على خير خلقه محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين.

امّــابعــــــــــد: دا يو څرګند حقيقت دی چې الله جل جلاله ټول شيان د انسانانو د اړتياوو پوره کېدو لپاره پيداکړي دي: الله Δ په دې خبره باندې تصريح په دې قول کې کړې ده چې فرمايي ( هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ) (۱: البقرة ۲۹).

ژباړه: اللهΔ هغه ذات دی چې پيدا کړي يې دي ستاسو د ګټې لپاره ټول هغه شيان چې په ځمکه کې دي (سيد عبيد الله شاه،۱۴۱۴هـص ۲۲).

له دغو پيدا شويو له جملې څخه يو هم هغه ځمکې دي چې شاړې وي، شاړه ځمکه هغې ځمکې ته ويل کيږي چې آباده نه وي، او د کوم شخص ملکيت پورې هم تړلې نه وي، نو ددې موضوع ارزښت په دې کې دی، چې د داسې ځمکو په ابادولو سره د هېواد ابادي راځي او همدارنګه هغه شخص چې دا ځمکه اباده وي د هغه ملکيت ګرځي او ګټه ترې اخلي، چې په پايله کې يې و زګارتيا او بېکارۍ کې لږ والی راځي او خلک به کار کولو ته و هڅول شي. په دې اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيِّتَةً فَهِيَ لَهُ) (الترمذي،۱۹۹۸م،ص ۵۷).

ژباړه: د جابر زوی د عبدالله څخه روايت چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: چاچې مړه( ناآباده ) ځمکه را ژوندۍ کړه، د هماغه آبادوونکي شخص ملکيت شو.

د شاړو ځمکو د آبا دولو په اړه شرعي نصوص شتون لري او ابادول يې ثابت دي، بېلابېل ډولونه او شــرطونه لري، د مواتي ځمکې د ملکيت په اړه د فقهاء مختلف نظريات لري، چې تفصــيل به يې د مقالې په متن کې وړاندې شي.

### د څېړنې ستونزه

ددې موضــوع په څېړنې ســره به په علمي ټولنه کې ډېرې ســتونزې هوارې شــي، په دې ســره به مسلمانان ورونه خبر شي چې د شاړو ځمکو ابادول په اسلام کې مشروع او روا دي، او همدارنګه هغه شـــخص چې دا ځمکه اباده وي خبر به شـــي چې دغه ځمکه د هغه ملکيت ګرځي، هغه

محصلان چې غواړي په یوه فقهي موضوع کې لیکنه وکړي، کولای شي په خپلو لیکنو کې له داسې څخه ګټه واخلي او هغوی ته لار آسانه شي.

## تېرو لیکنو ته کتنه

ما چې هر څومره کوښښ وکړو په دې اړه مې په پښتو ژبه کې کومه لیکنه ونه مونده، چې د دې موضوع ټول اړخونه یې څېړلي وي؛ البته په عربي ژبه کې د دې موضوع اړوند معلومات په بېلا بېلو کتابونو او موسوعو کې شتون لري، خو زیات یې په عربي ژبه وو او پښتنې ټولنې ته د ګټې اخستنې وړ نه وو او بل دا چې په بېلا بېلو کتابونو کې ذکر شوي وو او په یو ځای نه وو را ټول شوي؛ نو له همدې امله ما دا موضوع غوره کړه چې په اړه یې معلومات په پښتو ژبه یو ځای کې را ټول کړم او خلکو ته یې د ګټې اخستنې لپاره وړاندې کړم.

## د څېړنې موخې:

لوستونکي به په دې وتوانیږي چې:

۱- شاړې او نا آباده ځمکې به وپېژني.

۲- د شاړو ځمکو د ابادولو (احیاء الموات) په شرعي حکم به پوه شي.

۳- د شاړو ځمکو د آبادولو د مشروعیت په دلایلو به پوه شي.

۴- په شاړو ځمکو کې د معدنونو په حکم به پوه شي.

## د څېړنې مواد او کړنلاره

ما د خپل تحقیق او څېړنې په بهیر کې دا تګلاره غوره کړې ده، چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې د الله تعالی کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده یعنې هڅه مې کړې، چې اساس یې لومړی په قرآن کریم کې پیدا کړم وروسته مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې ده، همدا راز د څېړنې په بهیر کې مې د قرآن کریم او نبوي سنتو کې د پلټنې وروسته د فقهي مستندو، معتمدو او د اعتبار وړ مأخذونو ته مراجعه کړې ده او د دلایلو ترمنځ د مقایسې وروسته مې راجح نظر په ګوته کړی دی، یعنې دا څېړنه مې کتابتوني ده دا چې مقاله په پښتو ژبه ده؛ نو د پښتو ژبې ټول معیارونه مې په نظر کې نیولي دي.

## د احیاء الموات( د شاړو او ناآباده ځمکو ابادول) پېژندنه

### لومړی: د احیاء د کلمې لغوي څېړنه:

احیاء په لغت کې د یو شي ژوندي کولو ته ویل کیږي (احمد مختار، ۱۴۲۹هـ ص: ۵۹۷).

د احیاء په هکله د مجلة الاحکام العدلیة( ۱۰۵۱ )ماده وایي : الْإِحْيَاءُ بِمَعْنَى الْإِعْمَارِ ، وَهُوَ جَعْلُ الْأَرْضِ صَالِحَةً لِلزِّرَاعَةِ (لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية، ص ۲۰۳).

ژباړه: د ځمکې آبادول، د کښت لپاره یې اماده کول د احیاء څخه عبارت دي.

### دویم: د موات د کلمې لغوي څېړنه :

الموات د الموت څخه اخیستل شوې، چې د عدم حیات په معنا دی چې د یو قوت زایل کېدو ته ویل کیږي، ځکه میم او واو ، اوتاء ، دا اصل دي چې د یوشي نه د قوت تللو ته وایي. له دې څخه موت، موتان او موات راځي چې د حیات په خلاف یې اطلاق کیږي( هغه شی چې روح په کې نه وي، (أحمد بن فارس بن زکریا، ۱۳۹۹هـ ق، ص ۲۸۳).

دریم : داحیاء الموات(د شاړو ځمکو ابادول ) اصطلاحي پېژندنه:

د هغې خرابې او نا آباده ځمکې د و دانولو څخه عبارت دي، چې مالك نه لري او هېڅوك ترې گټه نه اخلي.

د و دانولو څخه یې مفهوم دا دی چې د آبادولو او یا په هغې کې د ونو په کېنولو، یا په کښت او اوبه کولو سره یې د گټې اخیستنې وړ وگرځوي، (محمد قلعجي، ۱۴۰۵هـ ق، ص ۱۴۸).

په (موات) سره د نومونې وجه یې داده چې د هغې څخه هېڅ ډول گټه نه اخیستل کیږي، لکه: کرنه، د نیالگیو کېنول،د ابادۍ جوړول او داسې نور...

### د موات( مړو ) ځمکو د آبادولو شرعي حکم

د هغه مړې( ناآباده ) ځمکې آبادول چې هغه نه د کوم شخص ملکیت وي او نه د مسلمانانو په عامه گټه پورې تړاو ولري، لکه: څر ځای، مقبره او داسې نور، د داسې ځمکې آبادول یو جایز عمل دی، هر چا چې دا ډول ځمکه آباده کړه چې نه د چا ملکیت وي او نه ورپورې د مسلمانانو عامه گټې او مصالح تړلې وي دا د آبادوونکي شخص ملکیت گرځي.

که آبادوونکی شخص مسلمان، یاذمي وي، که دا ځمکه یې د امام او سلطان په اجازه سره آباده کړې وي او که د هغې له اجازې پرته دا کار ترسره شوی وي، همدا شان که نومړې ځمکه په دار اسلام کې موجوده وي او که په دار حرب کې؛ خو په دې شرط سره چې د مسلمانانو عامه گټې ورسره تړلې نه وي، ځکه که عامه گټې ورسره تړلې وي، دا سې ځمکه بیا د آبادولو په واسطه سره د چاملکیت نه گرځي، بلکې دا ډول ځمکې

چې د عامه مصالحو په خاطر ځانګړې شوې وي، هغه د مسلمانانو ترمنځ مشترکې دي، يو فرد ته روا نه دي چې هغه خپل شخصي ملکيت وګرځوي، (محمد بن إبراهيم بن عبد الله التويجري،١٤٣٠هـ ق، ص ٥٩٨).

**د شاړو ځمکو د ابادولو مشروعيت دلايل**

د احياء الموات( يا د شاړو ) ځمکو د آبا دولو او جوړولو مشروعيت په قرآن کريم او نبوي آحاديثو سره ثابت دی:

لومړی په قرآن کريم سره يې ثبوت: د ځمکې ابادول يو لازمي او مطلوب امر دی، ځکه د شاړو ځمکو آبادول د ځمکې د آبادۍ سبب ګرځي. دا د الله تعالی غوښتنه ده، هغه فرمايي: ( وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُجِيبٌ ) (القران الكريم، هود، ايت: ٦١).

ژباړه : مونږ لېږلی وه ثموديانو ته د هغوی ورور صالح عليه السلام هغه وويل اې! زما قومه د الله تعالی بندګي وکړئ او نشته تا سو لره حق معبود له هغه پرته همدغه الله دی، چې تا سو يې په ځمکه کې په لومړي ځل پيدا او آباد کړي ياست، نو له همدې الله تعالی څخه بښنه وغواړئ، بيا ورته توبې وباسئ، بېشکه زما رب نږدې دی او د بندګانو غوښتنې قبلوي، (مولانا سيد عبيد الله شاه، ١٤١٤هـ ق، ص: ١٢٧٤).

اسلامي فقهې د ځمکې له ظاهري بڼې څخه ګټه اخيستنه د کښت په کرلو، د نیالګیو په کښېنولو، د تعمير او ابادۍ په جوړولو تعبير کړی، چې دغه اصطلاح د الله تعالی له دغې وينا څخه اخيستل شوې چې فرمايي :( وَآيَةٌ لَهُمُ الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ أَحْيَيْنَاهَا وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُونَ ) (القران الكريم، يس، ايت: ٣٣).

ژباړه : او دليل (دقدرت) دی دوی ته ځمکه مړه (وچه کلکه) چې ژوندی کوو مونږ هغه (په اوبو سره) او راوباسو مونږ له هغې ځمکې څخه دانې، نو له څينو د دغو (دانو) څخه خوري (مولانا سيد عبيد الله شاه،١٤١٤، ص: ٧٩٥).

دويم په نبوي احاديثو سره يې ثبوت:

د شاړو ځمکو د ابادولو او ژوندي کولو په هکله ډېر نبوي احاديث شتون لري، څو يې دلته د بېلګې په توګه ذکرکوو :

١ ـــــ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ، وَلَيْسَ لِعِرْقٍ ظَالِمٍ حَقٌّ (السِّجِسْتاني، ص: ١٧٨).

ژباړه : د سعيد بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه روايت کوی: چاچې کومه ځمکه ژوندۍ( آباده )کړه د هماغه شخص شوه،د نورو په ځمکه کې په نا روا ډول آبادوونکو ته هيڅ حق نشته دی( چې د بل چاپه ځمکه کې د ملکيت په خاطر په ناروا ډول ابادي،يا په کې نيالګي وکري ).

۲ــــ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيِّتَةً فَهِيَ لَهُ (الترمذي، ۱۹۹۸م،ص: ۵۷).

ژباړه : د جابر بن عبد الله رضي الله عنه له رسول صلى الله عليه وسلم نه روایت کوي او فرمايي : چاچې مړه( ناآباده ) ځمکه را ژوندۍ کړه، د هماغه آبادوونکي شخص ملکیت شو.

۳ـــــــــعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيِّتَةً، فَلَهُ فِيهَا أَجْرٌ وَمَا أَكَلَتِ الْعَوَافِي مِنْهَا، فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ» (النسائي، ۱۴۱۱هـ ص: ۴۰۴).

ژباړه : جابر بن عبد الله رضي الله عنه د رسول صلى الله عليه وسلم څخه روایت کوي : چاچې مړه( ناآباده ) ځمکه را ژوندۍ او آباده کړه، د آبادوونکي شخص لپاره په دې کې اجر او ثواب دی، که حيواناتو له هغې څخه کوم خوراک کړی وي هغه د دغه آبادوونکي شخص لپاره صدقه ده.

## د مواتي( شاړې، ناآباده ) ځمکو د آبادولو حکمت او ګټې

### لومړی د مواتي ځمکې د آبادولو حکمت:

د مواتي ( ناآباده ) ځمکو د آبادولو حکمت هغه دا دی، په دې سره د رزق دایره پراخیږي او هغه څه چې له دغې ځمکې څخه لاس ته راځي په هغې کې د مسلمانانو لپاره عامه منفعت او ګټې پرتې دي، لکه: خوراک، لباس او همدا شان د ژوندانه نورې اسانتیاوې، بل دا چې په دې کې د مساکینو او فقراوو لپاره هم ګټې نغښتې دي، لکه: زکات شو چې دا د مساکینو او غریبانو حق دی، د شتمنو خلکو په اموالو کې (محمد بن إبراهيم بن عبد الله التويجري، ۱۴۳۱، ص: ۷۷).

### دویم د شاړو ځمکو د آبادولو ګټې:

د مړو ځمکو د آبادولو په پایله کې په و زګارتیا او بې کارۍ کې کموالی راځي او خلک کار ته هڅیږي، همدا شان په دې کار سره د تولنې د افرادو ترمنځ د ملکیتونو د پراختیا سبب ګرځي، چې دا کار په حقیقت کې د اقتصادي سرچینو او غذايي موادو په لا زیات پیدا کېدو کې مرسته کوي او د يو هېواد د اقتصادي پرمختګ سبب ګرځي،په ټولنه کې د فقر او غربت د له منځه وړلو سبب کیږي .

همدا شان که یو انسان په یوه ښه نیت سره یوه مواتي( ناآباده ) ځمکه اباده کړي او موخه يې د ابادولو څخه د اجر او ثواب حاصلول وي؛ نو الله جل جلاله به دغه انسان ته په دې کړنه هم دنیاوي ګټه حاصله کړي او هم به ورته الله تعالى په آخرت کې اجر او ثواب ورکړي، په دې هکله رسول صلى الله عليه وسلم فرمايي :

عن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول الله – صلى الله عليه وسلم -: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ».متفق عليه (البخاري،۱۴۲۲، ص: ۱۰۳).

ژباړه : د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي رسول H فرمايلي دي: نشته هېڅ يو مسلمان چې هغه دې نيالګې کينوي، يا دې فصل او کرونده وکري، چې له هغې څخه مرغان، انسانان، او ځاروي خوراک وکړي؛ مګر وي به دا د هغه لپاره صدقه يعني دابه د هغه انسان له پاره صدقه او اخرت کې د اجر سبب ګرځي.

## د شاړو ځمکو ډولونه

مواتي ( شاړې ) ځمکې په دوه ډوله دي، هريو يې په لاندې ډول سره ذکر کيږي:

لومړی ډول هغه مواتي( شـــاړې ) ځمکې چې هغه د کوم شـــخص ملکيت نه وي، نه د چا تر ارتفاقي حقوقو پورې تړاو ولري، که هغه عامه حقوق وي او که خاص حقوق وي، مثلا : لکه د حيواناتو د څر ځای، مقبره، عامه لاره، ياخاص لار او دا سې نور، نه په کې د آبادۍ کوم اثارات او نښې موجود وي، که دا ډول ځمکه چا آباده کړه، آبادوونکی شـــخص د نوموړې ځمکې مالک شـــو او د ده ملکيت وګرځېده، ځکه دا يوه مړه او ناآباده ځمکه وه، ده په کې زيار او زحمت وويست؛ نو د آبادولو په وا سطه سره يې مالک شو او هغه څوک چې د شاړې ځمکې احياء او آبادولو ته قايل دي د هغوی ترمنځ په دې کې کوم اختلاف شتون نه لري.

دويم ډول هغه مواتي ( شاړه ) ځمکه ده، چې په هغه د يوچا ملکيت تېر شوی وي او يا اوس په کې د يو کس ملکيت ثابت او موجود وي او داسې نور، دا ډول مواتې ځمکې په درې ډوله وېشل شوي دي :

لومړی ډول: هغه ځمکه چې هغه د يو ټاکلي او معلوم شخص ملکيت وي او مالک يې معلوم او مشخص وي، دا بيا په دوه ډوله ده،په لاندې ډول يې ذکر کوو:

لومړی: هغه ځمکه چې د شراء( اخېستلو )او يا د بخشش په وجه سره هغه د يو شخص ملکيت وګرځي او د هغه په تصـرف کې وي دا ډول ځمکې د احياء( آبادولو ) په اساس د چا ملکيت نه ګرځي او نه يې څوک د آبادولو حق لري چې هغه د ځان لپاره آباده کړي، ځکه چې مالک يې معلوم دی، په دې کې د علماوو تر منځ کوم اختلاف شتون نه لري (ابن قدامة، ۱۴۰۵، ص: ۱۶۴).

دويم: هغه ځمکه ده چې د احياء( آبادولو ) په واســـطه د يو چا ملکيت ګرځېدلی وي؛ خو خاوند يې ورڅخه ګټه نه اخلي، همداســـې يې پرېښـــې وي،د احياء کوونکي د غفلت په وجه احياء شـــوې ځمکه د بيا ځل لپاره شـاړه( ناآباده )وګرځي، په دې هکله د فقهاوو دوه ډوله نظرونه موجود دي، لومړی نظر د امام مالک رحمه الله دی، هغه وايي: کله چې يوه مړه ځمکه احياء( آباده ) شي، بيا بېرته مواتي ځمکه ترې جوړه شي مخکې له دې چې ملکيت يې د احياء کوونکي نه غير بل چاته انتقال شـــي د لومړی احياء کوونکي ملکيت ختمېږي او هر شخص کولای شي چې د احياء کولو په واسطه يې ترخپل ملکيت لاندې را ولي، دا داسې مانا لري، لکه: د سر نه چې آباده شوې نه وي، دا د موات( شاړې ) ځمکې سره برابره ده.

مانا داچې دا مواتي( شـــاړه ) ځمکه حســـابيږي، د دې ډول ځمکې حکم دادی، چې هرڅوک يې آبادولو ته مخکې والی وکړي او آباده يې کړي؛ نو د آبادوونکي شخص ملکيت ګرځي، ځکه اصل د دې ځمکې اباحت

دی، چي خاوند يې همداسې پرېښې او شاړه شوې ده، هېڅ ډول ګټه ورڅخه نه اخلي؛ په دې سره دا مباح ګرځي که څوک يې آباده کړي حق د آبادولو لري (ابن قدامة،۱۴۰۵، ص: ۱۶۴).

دويم نظر دجمهورو فقهاوو دی( امام ابوحنيفه، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله ) .

هغوی داسې وايي: که يو سړی پاڅيږي، يوه شاړه ځمکه د احياء (ژوندي کولو) د شرطونو په پام کې نيولو سره آباده کړي؛ نو دا ډول آبادی کول د ملکيت د نورو ا سبابو په څير يو سبب دی، کله چي دا ملکيت د يو شخص لپاره د احياء کولو په واسطه ثابت شي؛ نو دا ملکيت له منځه نه ځي؛ مګر په هغه وخت کې چي د ملکيت د انتقالوونکو ا سبابو نه يو سبب واقع شي، تر څو چي داسې سبب پيدا شوی نه وي؛ د احياء کوونکي لپاره ملکيت ثابت دی ترديج که څېرته د احياء کوونکي د غفلت په وجه احياء شوې ځمکه بېرته نا آباده شي، بيايې هم له ملکيت څخه نه وځي (ابوزهرة، محمد، ۱۹۹۶م، ص: ۱۱۴).

د امام مالک رحمه الله دلايل:

۱ــ د شاړو ځمکو په ابادولو کې د ملکيت لاسته را وړلو علت احياء (ابادول، ژوندي) کول ګرځول شوي دي، هرکله چي احياء (ژوندي) کول له منځه ولاړ شي ملکيت هم له منځه ځي؛ ځکه چي حکم د وجود او عدم له لحاظه له خپل علت سره ګرځي، يعني که علت موجود شو حکم هم ورسره موجوديږي او که علت معدوم شو حکم هم معدوميږي، د همدې اصل پر اساس کله چي علت له مينځه ولاړ حکم هم ورسره باطليږي او که علت پيدا شو حکم هم پيدا کيږي.کله چي احياء (ژوندي) شوې ځمکه شاړه شوه علت له منځه لاړه؛ نو حکم هم پاتې نه شو چي د ملکيت وجود دی (ابوزهرة، محمد،۱۹۹۶، ص: ۱۱۴).

همدا ډول لاندې نبوي حديث شريف عموموالی هم په دې دلالت کوي، چي مړه او شاړه ځمکه د ابادولو او ژوندي کولو پر مهال تر لاسه کيږي.

(مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ ) ژباړه: چاچي کومه ځمکه ژوندی( آباده )کړه د هماغه شخص شوه .

۲ـــــــ شاړه شوې ځمکه مباح مال دی او مباح مال د احياء (ابادولو او ژوندي) په واسطه د يو کس ملکيت ګرځي، د دې له پاره چي دی ترې ګټه واخلي او نور ترې ګټه وانخلي، کله چي په خپله ورته توجه نه کوي او هغه شاړه وي؛ نو د مباح والي لومړی حالت ته ګرځي، داسې کيږي، لکه: يو څوک ښکار زخمي کړي؛ خو سره له دې بېرته ترې وتښتي او دوباره وحشي شي، يا لکه ماهي ونيسي او بېرته ترې تېښته وکړي؛ نو همدا راز مواتي (شاړه) ځمکه هم ده چي د احياء (ژوندي، ابادول) کولو وروسته مواتي (شاړي، نا اباده) حالت ته وګرځي بېرته همدغه د اباحت حالت پرې راځي (عبد الکريم زيدان،۱۴۲۴هـ ق، ص: ۲۲۰).

دويم د جمهورو فقهاوو دلايل:

کله چي يوه ځمکه شاړه وي او يوکس يې ودانه کړي او دوباره ترې شاړه شي ځينې وايي چي د احياء کوونکي په ملکيت کې پاتې کيږي او د هغه له ملکيت څخه نه وځي، دليل يې دغه حديث شريف دي:

LU
TAHSIL ACADEMIC AND RESEARCH JOURNAL
TARJ
2023

تحصیل
د لغمان پوهنتون علمي، څېړنیزه مهالنۍ خپرونه
۱۴۰۲ ل کال لومړی ګڼه، تله (میزان)

١- عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيِّتَةً فَهِيَ لَهُ، وَلَيْسَ لِعِرْقٍ ظَالِمٍ حَقٌّ (السِّجِسْتاني، ص: ۱۷۸).

ژباړه: د سعید بن زید [I] څخه روایت دی، هغه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي او فرمایي: چاچې کومه ځمکه ژوندۍ( آباده )کړه د هماغه شخص شوه او د نورو په ځمکه کې په نا روا ډول آبادوونکو ته هېڅ حق نه شته دی( چې د بل چا په ځمکه کې د ملکیت په خاطر په ناروا ډول ابادي او یا په کې نیالګي وکري ).

جمهورعلماء وايي د دې حدیث په بنا په دغه ځمکه کې په مطلق ډول د احیاء کوونکي ملکیت ثابت شوی دی او د هغه تصرف لاندې ده، تر څو چې د ملکیت نقلوونکي اسباب موجود نه شي د هغه له ملکیت څخه نه وځي.

٢- همدا راز احیاء (ابادول، ژوندي) کول پر بیع، هبه او د ملکیت په داسې نورو اسبابو باندې قیاس کوي، ځکه چې احیاء هم د همدې عقودو په څېر د ملکیت د اسبابو نه یو سبب دی، بلکې د ځمکو په مسئله کې دا ټول عقود په احیاء او آبادولو بناء دي، ځنګه چې په دغو اسبابو کې کله ځمکه مړه شي ملکیت یې له منځه نه ځي، همدا رنګه د احیاء (ابادولو، ژوندیکولو) په سبب چې کوم ملکیت رامنځته شوی هغه هم باید په دې وجه زایل نه شي چې ځمکه بېرته مواتي (شاړه) شوې ده (ابوزهرة، محمد، ۱۹۹۶، ص: ۱۱۵).

دویم ډول: د هغه مواتي( شاړې، نا آباده ) ځمکې چې په هغې د یو چا ملکیت تېر شوی وي او یا اوس په کې د یو کس ملکیت ثابت او موجود وي :

دا هغه ځمکه ده چې په هغې کې د جاهلیت د دورې د پخوانیو یا چاهانو تاریخي آثار او نښې نښانې موجودې وي، لکه د رومیانو او ثمود یانو د وخت اثرات او نښې او د دې په څېر نورې نښې په کې شتون ولري، که دا ډول ځمکه یو څوک آباده کړي د آبادولو او احیاء کولو په واسطه یې مالك کېدای شي، هر چاچې دا ډول ځمکې آبادې کړې د هغه ملکیت شو، نوموړی شخص یې مالك ګرځي، ځکه د دې ډول ځمکو د احیاء( آبادولو ) کوم حرمت او ممنوعیت شتون نه لري، بلکې دا د مباح ځمکې حکم لري، چاچې ورته مخکې والی وکړ د هغه ملکیت شو، د رسول صلی الله علیه وسلم د دغه حدیث شریف په و جه چې فرمایي: ( عَنْ طَاوُس، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عَادِيُّ الْأَرْضِ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ، ثُمَّ لَكُمْ مِنْ بَعْدُ، فَمَنْ أَحْيَا شَيْئًا مِنْ مُوتَانِ الْأَرْضِ فَلَهُ رَقَبَتُهَا ( البیهقي، ۱۳۴۴هـ ق، ص: ۱۴۳).

ژباړه: د طاوس ر ضی الله عنه څخه ر وایت دی هغه وایي: ر سول [H] فرمایلي دي؛ عادي (لامالکه ) ځمکې د الله تعالی او د هغه د ر سول صلی الله علیه وسلم دي او د هغې څخه ورو سته بیا ستا سو لپاره دي، چا چې د مړې ځمکې څه برخه اباده کړه؛ د هغه لپاره یې رقبه (ملکیت دی ) .

دریم ډول: هغه ځمکه ده چې پر هغه د اسلام په دوران کې د یو غیر معلوم شخص مسلمان او یا د یو ذمي ملکیت تېرشوی وي او بیا نوموړې ځمکه د خپل خاوند له لوري پرېښودل شوې وي او له هغې څخه ګټه نه

اخلي، همدا ډول د هغه شـخص له مړيني وروسـته ورثه يې هم پرېږ دي او کومه ګټه ورڅخه نه اخلي، تردې چې د خلکو نه دوی هېر شي، هېڅوك په دې برخه کې کوم معلومات ونه لري يوازې دومره معلومات موجود وي چې يو وخت د چا ملکيت و.

د احياء (ابادول، ژوندي) کولو په واسـطه د داسـې ډول ځمکې د ملکيت په لاسـته را وړلو کې د امام احمد رحمه الله نه دوه روايته دي: يو روايت دا دی چې د احياء کولو په وا سطه د دې مالك کېدای نه شي، بلکې د خاوند په ملکيت کې به همېشه پاتې وي، دا رايه د امام مالك رحمه الله هم ده د دې حديث په وجه : عَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمُزَنِيِّعَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:( مَنْ أَحْيَا مَوَاتًا مِنَ الْأَرْضِ فِي غَيْرِ حَقِّ مُسْلِمٍ فَهُوَ لَهُ ) (يحيى بن آدم، ۱۳۸۴هـ ص: ۹۸).

ژباړه: د کثير بن عبد الله المزني رضی الله عنه څخه ر وايت دی هغه د خپل پلار نه او هغه يې له نيکه څخه ر وايت کوي هغه فرمايي چې رسول Hفرمايلي دي: چا چې مواتي (شـاړه) ځمکه اباده کړه چې هغه د بل چا ملکيت نه وي پس دا د هغه ملکيت شو.

په پورتني نبوي حديث کې ځمکه مقيده شوي ده (في غير حق مسلم) کې، ما نا دا چې که پر ځمکه د مسلمان ملکيت تېرشوی وي بيا دا د آبادولو په واسطه د چاملکيت نه شي کېدای، دا داسې مثال لري، لکه: چې خاوند يې معلوم وي، نو حکم يې دا شـو چې دا ډول ځمکه د احياء په واسـطه د چا ملکيت نه شـي کېدای، که ورثه يې شتون ولري د هغوی حق دی، که ورثه يې شتون ونه لري بيا د عامه مسلمانانو ملکيت دی معنا دا چې دا بيا عامه شتمني حسابيږي.

دويم روايت د امام احمد رحمه الله دا دی چې دا ډول ځمکې د احياء په واسـطه مملوك کېدای شـي او هر څوك چې ورته مخکې والی وکړي او آباده يې کړي مالك يې شـو، ځکه چې د اصـل خاوند ملکيت ترې ختم شـوی دی، ځکه چې ځمکه بېرته مواتي (شـاړه، نا آباده) ګرځېدلې ده، دا مذهب د امام ابوحنيفه او امام مالك رحمهما الله هم دی، د عمومي دلايلو په وجه دا د چاملکيت نه شي ګرځېدای، دا داسې مثال لري، لکه اصلاً چې وربانديې د چا ملکيت نه وي تېرشوی (ابن قدامة، ۱۴۰۵ هـ ق، ص: ۱۱۷).

## د مواتي (شاړو، نا آباده) ځمکو د ملکيت په اړه د فقهاوو اندونه

لومړی د امام ابوحنيفه رحمه الله نظر : امام ابو حنيفه رحمه الله د هغې ځمکې احياء (ابادول، ژوندي کول) او هغه په خپل ملکيت کې را وستل جايز ګڼي، چې هغه عادي او خاوند يې نه وي، يا دا چې د اسلام په دور کې د يو چا ملکيت وربانديې تېر شـوی وي، خو اوس يې خاوند مشـخص نه وي، بل دا چې د کلي څخه به جدا وي آن تردې که يو سړی د مواتي (شاړه، نا آباده) ځمکې په هغه پوله کې په لوړ آواز غږ وکړي چې د کلي و دانی ته تر ټولو ډېر نږدې وي او په کلي کې يې غږ وا نه و رېدل شـي؛نو دا ځمکه مواتي (شـاړه، نا آباده)

ګڼل کیږي او که غږ یې په کلي کې وا وریدل شـي؛ دغه ځمکه بیا مواتي (شـاړه، نا آباده) نه ده (عبد الغني الغنیمي، ص: ۲۴۲).

دویم د امام مالك رحمه الله نظر : د مالکیانو نظریه د حنفیه فقهاوو له نظریې سـره د مواتي (شـاړه، نا آباده) ځمکې د ملکیت په هکله متفق او یو ډول ده، دوی هم وایي چې مواتي ځمکه به عادي اوبې خاونده وي، د دوی په اند د هغې ځمکې احیاء کول هم جایز دي چې یو چا په یو وخت کې آباده کړې وي او بیا دا ځمکه دوباره بېرته شاړه او نا آباده ګرځېدلې وي (الجندي، ۱۴۲۶هـ ق، ص: ۲۱۱).

دریم: د شـافعیه فقهاوونظر: شـافعیه فقهاوو د هغه ځمکې احیاء (ابادول، ژوندي) کول او هغه په خپل ملکیت کې را وسـتل چې هغه نه په موجوده وخت کې معموره او آباده وي او نه تردې مخکې چا آباده کړې وي، د داسې ځمکې آبا دول او هغه په خپل ملکیت کې را وستل جایز او صحیح دي؛ اما د دوی په آند که چېرې د جاهلیت په دورکې آباده شـوې وي؛ بیا اظهر قول دا دی چې د احیاء (ابادولو، ژوندي کولو) په واسـطه یې ملکیت ګرځي، خو په دې شرط چې کفار به ورڅخه د فاع نه کوي (الشربیني، ص: ۲۴۱).

څلورم د حنابله فقهاوو نظریات : حنابله فقهاء د مواتي (شـاړې) ځمکې د احیاء کولو او هغه په خپل ملکیت کې د را وستلو په اړه داسې قیود او شرایط بیانوي:

۱- مواتي (شاړې) ځمکه به داسې ځمکه وي چې د چا ملکیت به وربانديې نه وي تېر شـوی او نه به په کې د آبادۍ کومې نښې او اغېزې شتون ولري.

۲- هغه ځمکه چې په هغې کې د جاهلیت د دورې د پخوانیو پاچا هانو تاریخي آثار او نښـې نښـانې موجودې وي لکه د رومیانو او ثمودیانو د وخت اثرات او نښـې، که دا ډول ځمکه یو څوك آباده کړي د آبا دولو او احیاء کولو په واسـطه یې مالك کېدای شـي، ځکه د دې ډول ځمکو د احیاء( آبا دولو ) کوم حرمت او ممنوعیت شتون نه لري ، بلکې دا د مباح ځمکې حکم لري چاچې ورته مخکې والی وکړ د هغه ملکیت شو.

په دې هکله د رسـول صلی الله علیه وسلم څخه دا حدیث موجود دی.( عَادِيُّ الْأَرْضِ لِلَّهِ وَلِرَسُـولِهِ، ثُمَّ لَكُمْ مِنْ بَعْدُ، فَمَنْ أَحْيَا شَيْئًا مِنْ مُوتَانِ الْأَرْضِ فَلَهُ رَقَبَتُهَا ) (یحیی بن آدم ، ۱۳۸۴ هـ ق، ص:۹۴).

ژباړه : رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: عادي (لامالکه ) ځمکې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم دي او د هغې څخه وروسـته بیا سـتاسـو لپاره دي، چا چې د مړې ځمکې څه برخه اباده کړه؛ د هغه لپاره یې رقبه (ملکیت دی ) .

۳- هغه ځمکه چې پر هغه د اسـلام په دوران کې د یو غیر مشـخص مسـلمان او یا د یو ذمي ملکیت تېرشـوی وي، د داسـې ډول ځمکې د ملکیت په لاسـته را وړلو کې د امام احمد رحمه الله نه دوه روایته دي، یو روایت دا دی چې د احیاء کولو په واسطه د دې مالك کېدای نه شي، بلکې د خاوند په ملکیت کې به همېشه وي.

LU
TAHSIL ACADEMIC AND RESEARCH JOURNAL
TARJ
2023

تحصيل
د لغمان پوهنتون  علمي، څېړنيزه مهالنۍ خپرونه
۱۴۰۲ ل کال لومړۍ ګڼه، تله (میزان)

او دوېم روايت د امام احمد رحمه الله دا دی چې دا ډول ځمکې د احياء ( آبا دولو ) په واسطه مملوك كېدای شـــي او هرڅوك چې ورته مخكې والی وكړي او  هغه آباده كړي ملكيت يې وګرځي، ځكه چې د اصـــلي خاوند ملكيت ورڅخه ختم شوی، هغه دا چې ځمكه بېرته مواتي (شاړه) ګرځېدلې ده، د عمومي ادلةو  په وجه سره دا د چاملكيت نه شي ګرځېدای او دا  داسې مثال لري لكه اصلاً چې ورباندې د چا ملكيت نه وي تېرشوی (ابن قدامة، ۱۴۰۵ هـ ق، ص: ۱۱۷).

زما په آند كه چېرې دا سې يوه مواتي (شاړه) ځمكه  شتون ولري چې كوم معلوم او مشخص مالك و نه لري او نه ورپورې د كوم شخص ار تفاقي حقوق تړلي وي.

نو كه د دلايلو عموم ته وكتل شي د داسې ډول مواتي (شاړې) ځمكې احياء او آبادول د يو اسلامي دولت د هر فرد لپاره جايز دي چې هغه آباده كړي، ځكه كه داسې ډول مواتي (شاړه) ځمكه همداسې پرېښودل شي او د استفادې وړ ونه ګرځي؛ مونږه به د يو دولت د اقتصادي مواردو د پرمختګ مخنيوی كړی وي چې دا سم كار نه دی.بل دا چې په دې كار كې د يو هېواد اقتصادي مصالح را نغښتې دي، لكه د غذايي موادو د كمبود مخنيوی او داسې نور، ځكه د يو هېواد د پر مختګ چارې په اقتصاد پورې تړاو لري، نو هر فرد بايد د دولت د اقتصادي پر مختګ لپاره كوښښ وكړي او  هغه اقتصادي موارد چې همداسې پاتې دي او د ګټې اخيستنې وړ نه دي ګرځېدلي د ګټې لپاره يې برابركړي، چې يو هم د هغې له جملې څخه مواتي ځمكه ده، كه چېرې داسې اقتصادي موارد همداسې پرېښودل شي او كومه توجه ورته ونه شي، په دې كې يو شرعي ضرر دی او د ضرر له منځه وړل لازمي او اړين دي.

**د شاړو ځمكو د ابادولو شرطونه**

د شاړو ځمكو د آبا دولو شرطونه په لاندې ډول دی:

۱ـــ اذن الامام: د مواتي (شاړې) ځمكې په احياء (آبادولو) كې لومړی شرط د امام اجازه ده دا چې د مواتي ځمكو په احياء كولو كې د امام اجازه شرط ده، دا يوه اختلافي مسئله ده فقهاوو په دې برخه كې مختلف نظرونه څرګند كړي دي :

لومړی نظر : د امام ابو حنيفه رحمه الله دی، هغه وايي: د مواتي ځمكو په احياء كې د امام اجازه شرط ده،كه څوك د امام( حكومت )او يا د هغه د نايب له اجازې پرته شاړه ځمكه احياء كړي؛ د هغې مالك كېدای نه شي (عبد الغني الغنيمي، ص: ۲۴۲).

دوېم نظر : د امام شـــافعي ، امام احمد بن حنبل، امام ابو يوســـف او  امام محمد رحمهم الله دی، دوی وايي: مواتي (شـاړه) ځمكه كه څوك احياء (اباده) كړي په مجرد احياء (اباده ولو) د هغې مالك ګرځي كه دا احياء كول يې د امام په اجازه وي او كه د امام په اجازه نه وي (الماوردی، ص: ۱۱۹۲، ابن مفلح،۱۴۲۳هـــــ ق، ص: ۱۱۷).

دريیم نظر : د امام مالک رحمه الله نظر او مسلک دی:

د امام مالک رحمه الله نظريه او مسلک دا دی چې مواتي (شاړه) ځمکه په دوه ډوله ويشل شوی ده.

مواتي (شاړه) ځمکه به يا له آباديو څخه ليرې وي او يا به دغه شاړه ځمکه آباديو ته نږدې وي؛ د امام مالك رحمه الله نظر د دې دواړو په هکله دا دی، که د آباديو څخه مواتي ځمکه ليرې وي د امام اجازه په کې شرط نه ده، که چېرته مواتي ځمکه آباديو ته نږدې وي؛ بيايه کې د امام اجازه شرط ده، ځکه چې ګډوډي او نزاع واقع نه شي او مخه يې ونيول شي، که ښاروي سهار او بيګا ورتلای نه شي دا ليرې ده او که ښاروي سهار او بيګا ورتلای شي؛ دانږدې ده (الأصبحي، ص: ۴۷۳).

غوره او راجح نظر :

که مونږ دلايلو او نصوصو ته وګورو د مواتي (شاړې) ځمکې د احياء (ابادولو) په اباحت او جايز والي کې ټول فقهاء سره متفق او يوه خوله دي؛ اما اختلاف يې په دې کې دی چې آيا د امام اذن او اجازه په کې شرط ده او که نه؟ که د آحاديثو ظاهر او عموم ته وکتل شي د جمهورو علماوو قول غوره او راجح ښکاري، هغه دا چې د مواتي ځمکو په احياء کولو کې د امام اجازه شرط نه ده، عموما د رسول صلی الله علیه وسلم هغه احاديث او ګڼ شمېر روايات چې په عامه صيغه په دې دلالت کوي که چا کومه شاړه ځمکه آباده کړه د هماغې مالك ګرځي، فرمايي: ( مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيِّتَةً فَهِيَ لَهُ) چا چې شاړه ځمکه آباده کړه د هماغې ملکيت ګرځي الشوكاني، ص:۳۳).

همدا شان د رسول H دا حديث مبارک چې فرمايي:( من سبق إلى مالم يسبق إليه مسلم فهو له ) دوی وايي چې مواتي ( شاړې) ځمکې مباح مال دی او مباح مال؛ خو د هغه چا ملکيت کېږي چې د ټولو نه ورته مخکې والی وکړي؛ د لته د احياء کوونکي لاس د ټولو نه مخکې مواتي ځمکو ته سبقت کړی؛ نو د ده د ملکيت په ثبوت کې د امام اجازې ته کومه اړتيا نه ليدل کيږي (الشوكاني، ص: ۳۴).

د دې په څېر نور نصوص چې د هغې څخه د شاړو ځمکو د احياء کولو اباحت معلوميږي، اما که د موضوع ټولو اړخونو ته ژور نظر وشي او د هغې په څنګ کې دولتي عامه مصالحو ته هم ارزښت ورکړل شي؛ بيا د امام ابو حنيفه رحمه الله نظريه غوره ښکاري، ځکه د امام ا سا سي د نده دا ده چې د بې نظميو او ګډوډيو مخه ونيول شي او د امام د اجازې په شرط کولو کې د هيڅ کوم ډول بې نظميو او ګډ وډيو د رامنځته کېدو تصور نه شي کيدای.

جمهورو علماء کرامو چې د کومو احاديثو په عموم باندې استدلال کړی لکه( مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيِّتَةً فَهِيَ لَهُ) دا حديث د امام د اجازې له شرط کولو سره کوم منافات نه لري، ځکه دا حديث د هغه حديث په څېر دی چې فرمايي:( من قتل قتيلا فله سلبه ) چاچې کوم جنګي وواژه ؛ د جګړې سامان يې د هماغه وژونکي دی.

LU
TAHSIL ACADEMIC AND RESEARCH JOURNAL
TARJ
2023

تحصیل
د لغمان پوهنتون علمي، څېړنیزه مهالنۍ خپرونه
۱۴۰۲ ل کال لومړی ګڼه، تله (میزان)

د دې حدیث اړوند هېڅچا هم داسې نه دي ویلي چې چا یو کافر په جهاد کې وواژه؛ نو د هغه د جنګ سامان د امام له اجازې پرته اخېستلای شي، بلکې د فقهاوو په اتفاق په کې د امام اجازه شرط ده؛ همدا ډول د مواتي (شاړې) ځمکې په احیاء (ابادولو) کې هم د امام اجازه اړینه ده که څه هم صراحت یې نه دی ذکر شوی (ابوزهرة، محمد،۱۹۹۶م، ص: ۱۱۲).

۲ ـــ تجرد الارض الموات من الحقوق العامة: د مواتي (شاړو) ځمکو د آبادولو دویم شرط دا دی چې د عامة حقوقو څخه به خالي وي( د خلکو عامة ګټې به ورپسې نه وي تړلې )اما که چېرې ورپسې عامة ګټې تړلې وي، بیا د داسې مواتي (شاړې) ځمکې آبادول جواز نه لري.

۳ ــ تجرد الارض الموات من الحقوق الخاصة: د مواتي (شاړې) ځمکې دریم شرط دا دی چې د خلکو خاص حقوق به ورپورې نه وي تړلي:

مخکې مو د مواتي (شاړو) ځمکو د آبادولو په شرائطو کې وویل، چې د خلکو عامه ګټې به په کې نه وي را نغښتې؛ همدا ډول د یو چا خاص ګټې به هم ورپورې تړلې نه وي او که چېرې د کوم شخص ګټې په کې شتون ولري بیاهم دا سې ډول مواتي (شاړه) ځمکه د احیاء (آبادولو) په واسطه د چا ملکیت نه شي کېدای.

۴- دمواتي (شاړې) ځمکې د احیاء (آبادولو) لپاره څلورم شرط دا دی چې د چا ملکیت نه وي، بلکې عادي او بې خاونده ځمکه به وي (الخصکفي،۱۳۸۶هـ ق،ص: ۴۳۲).

## د شاړو ځمکو د کانونو حکم

مخکې له دې چې مونږ د مواتي ( شاړې ) ځمکې د کانونو د حکم په اړه څه ذکر کړو، مونږ به لومړی قدم کې د شاړې او نا آبادې ځمکې کانونه په دوو لویو برخو وېشو لومړی ښکاره کانونه، دویم پټ کانونه چې هر یو به شرح کېږي.

### لومړی ډول ښکاره کانونه

ښکاره کانونه له هغه کانونو څخه عبارت دي، چې ښکاره وي او پرته له کوم مشقت او زحمت نه ورته لاس رسی او خلك وخت په وخت ورځې او ګټه ورڅخه پورته کوي، لکه: مالګه، اوبه، کبریت (دا یو ډول زیړ مواد دی چې په ماچسو کې استعمالیږي)، قیر، نفت، رانجه، یاقوت اودې ته ورته نور شیان، د احنافو او حنابله فقهاوو په اند دا ډول معادن د احیا ء په واسطه د چا ملکیت کېدای نه شي او نه یې چاته اقطاع( بخشش )ورکول جواز لري، بلکې ټول خلك به ترې په ګډه توګه ګټه اخلي، ځکه دا د ټولو خلکو ترمنځ ګډ دي، هر څوك حق لري چې د خپلې اړتیا په اندازه ترې ګټه واخلي، د امام شافعي رحمه الله په اند که ابادوونکي ته دا معلومات نه وي چې دلته کان شتون لري او د ځمکې د آبادېدو په وخت کې په کې کان پیدا شي د آبادوونکي ملکیت کېږي، که چېرې ورته له مخکې معلومات موجود وي، چې دلته کان شتون لري بیایې ملکیت نه کېږي (الکاساني، ۱۹۹۲م، ص: ۱۹۴، الشافعي، ۱۳۹۳م، ص:۴۲).

د امام مالک رحمه الله نظر دا دی چې د دې واک او صلاحيت د مسلمانانو د امام سره دی، که چاته يې ښښي او که همداسې يې پرېږدي، که هغه په مملوکه ځمکه کې وي او که په غير مملوکه ځمکه کې د رسول صلی الله عليه وسلم حديث مبارک دی هغه فرمايي:( الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ فِي الْكَلَإِ،وَالْمَاءِ، وَالنَّار ) (السِّجِسْتاني، ص: ۲۷۸).

ژباړه: خلک په دريو شيانو کې سره شريکان دي، په وښو، اوبو او اور کې.

د پورته ذکر شوي حديث څخه دا څرګنديږي چې د ښکاره کان چاته د اقطاع( بخشش )په ډول ورکول جواز نه لري، بلکې همداسې به يې پرېږدي چې ټول خلک ترې په مشترک ډول ګټه واخلي.

که چېرې په يو شخص پورې وتړل شي او نور خلک ترې منعه شي په دې کې عاموخلکو ته زيان متوجه دی،په هغوی باندې يو ډول تنګسيا او سختي را وستل دي، کله چې ترې عام زيان رامنځ ته کېده په داسې حالت کې بيا له مونږه سره فقهي قاعده شتون لري، هغه دا سې ده چې د لوی زيان نه د خلاصون په خاطر ووړکی ضرر تحمل کيږي، اوس کتل کيږي چې کوم يو ضرر لوی او کوم يو زيان کوچنی دی؛ ووړکی زيان به د لوی زيان په مقابل کې تحمل کيږي، لنډه داچې چا ته يې اقطاع (بخشش) صحيح نه ده.

دا ډول معادن بايد همداسې پرېښودل شي چې ټول خلک ترې وړيا ګټه واخلي، د دې خبرې د ثبوت لپاره ډېر دلايل موجود دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي :

لومړی: د ابيض بن حمال مازني رضـــی الله عنه له حديث څخه هم څرګنديږي : ( عن أبيض بن حمال قال : أتيت رسول الله صلى الله عليه و سلم فاستقطعته الملح الذي بمأرب فأقطعنيه فقال رجل يا رسول الله إنه كالماء العد قال فلا إذن ) (۲۸: ۴۰۵).

ابيض بن حمال رضي الله عنه ته محمد صلی الله عليه وسلم په مأرب نومې ځای کې يوه قطعه ځمکه ورکړه چې په هغې که د مالګې کان پيدا شو، هرکله چې ابيض بن حمال ولاړ محمد صلی الله عليه وسلم ته يو چا وويل ای! د الله رسول صلى الله عليه و سلم! تا خو تياري اوبه ده ته ورکړې( موخه يې دا وه چې د اوبو په څېر مالګه هم تياره عامه شتمني ده ) نومحمد صلی الله عليه وسلم له خپلې پرېکړې څخه بېرته را وګرځېد او ويې ويل: د دې اجازه درته نه شته.

دويم : د رسـول صلی الله عليه وسلم دا حديث مبارک چې فرمايي: ان رجلا قَالَ : يَا نَبِيَّ اللَّهِ، مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟، قَالَ: «الْمَاءُ»، قَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟، قَالَ: «الْمِلْحُ...) (السِّجِسْتاني، ص: ۲۷۷).

ژباړه : يوسړي د رسول صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه اې! د الله تعالی نبي هغه کوم شی دی چې منع کول يې صحيح او سم نه دي؟رسول صلی الله عليه وسلم ورته په ځواب کې وويل: اوبه، بيايې پوښتنه وکړه هغه کوم شی دی چې منع کول يې صحيح نه دي؟رسول صلی الله عليه وسلم ورته وويل: مالګه ده .

دا حدیث شریف په دې دلالت کوي چې د مالګې منع کول سم نه دي معنا دا که د مالګې کان شتون ولري چې دا یو ښکاره کان دی نو هر چا ته جواز شته چې د خپلې اړتیا په اندازه ترې ګټه واخلي، ځکه د ښکاره کانونو په لاسته راوړلو کې عمل ته اړتیا لیدل کیږي، نه په ا ستخراج کې، کله چې یې په تخریج کې عمل او خواري ته اړتیا نه لید ل کیږي؛ دا باید مشترک وګرځول شي او ټول خلک یې په حکم کې سره مساوي او یوشـــان دي، چا ته یې اقطاع او یا ورکول جواز نه لري، بلکې ټول خلک به ترې ګټه اخلي، ځکه دا د ټولو خلکو ترمنځ مشترک دي .

دریم: په ښکاره کانونو پورې د مسلمانانو عامه مصالح او ګټې تړلې دي، که مونږه هغه د احیاء کولو او یا د اقطاع (بخشش) په اساس سره د یو شخص ملکیت وګرځوو او عامه مسلمانان ترې منع کړو، نو عامو خلکو ته زیان ر سیږي، ګټه یوازې یو شخص ته ر سیږي، په دې سره عام مسلمانان په حرج او تکلیف کې پرېوزي او تنګسیا وربانديې راځي، ښه به دا وي چې عام مصلحت په نظر کې ونیول شي او د مسلما نانو عامه ګټې د خاصو ګټو قرباني نه شي (ابن قدامة، ۱۴۰۵، ص: ۱۷۳).

دویم : باطني( پټ )کانونه

دا هغه کانونه دي چې کاني جوهر یې پټ او ناڅرګند وي، له کار او مشقت څخه پرته ورته رسېدل امکان ونه لري، لکه: د سرو زرو، سپینو زرو او د اوسپنې کانونه، دغه او د دې په څېر نور، پټ کانونه شمېرل کیږي که د دې کاني جوهر تصـــفیه وغواړي او که نه، یوازې په کیندلو او عمل ســـره د دې څوک مالک جوړېدای نه شـــي؛ اما که یوڅوک مواتي ( نآباده ) ځمکه احیاء او آباده کړي او په هغې کې پټ کان ښـــکاره شـــي؛ دا شخص یې مالک ګرځي الشربیني،ص: ۳۵۸).

**نتیجه**

۱- شاړې ځمکې د هغې خرابې او نا آباده ځمکې د ودانولو څخه عبارت ده، چې مالـک نـه لـري او هېڅوک ترې ګټه نـه اخلي، د ودانولـو څخه یې مفهوم دا دی چې د آبـادۍ کولـو او یـا پـه هغې کـې د ونو په کښېنولو، یا په کښت او اوبه کولو سره یې د ګټې وړ وګرځوي.

۲- د احیاء الموات( شاړې ) ځمکې د آبا دولو په اړه شرعي نصوص شتون لري او ثابت دي.

۳- شاړې ځمکې مختلف ډولونه او شرطونه لري چې په تفصیل سره ذکر شوي دي.

۴- د شاړو ځمکـو د کـانونو حکـم دادی چې کانونـه پـه دوو لویـو برخـو وېشـو لـومړی ښکاره کانونـه ، دویـم پـټ کانونـه لـومړی ډول ښکار کانونـه: ښکاره کانونـه احنـافو او حنابلـه فقهـاوو پـه نـزد دا ډول کـان د احیـا ء (آبـادولو) پـه واسـطه د چا ملکیـت کېـدای نـه شـي او نـه یـې چاتـه اقطـاع( بخشـش )ورکـول جواز لري، د امام شافعي رحمـه الله پـه نـزد کـه آبـا دونکي تـه دا معلومـات نـه وي چـې دلتـه معـدن شـتون لـري او د ځمکـې د آبـا دېـدو پـه وخـت کـې پـه کـې کـان پیـدا شـي د آبـا دونکـي ملکیـت کېـږي، کـه

چېرې ورته لـه مخکې معلومـات موجـود وي، چـې دلتـه کـان شـتون لـري بیـايې ملکیـت نـه کېږي، د امـام مالـک رحمـه الله نظـر دا دی چـې د دې واک او صـلاحیت د مسـلمانانو د امـام سـره دی،کـه چاتـه یـې بخشش کوي او کـه همداسـې یـې پرېږدي، کـه هغـه پـه مملوکـه ځمکـه کـې وي او کـه پـه غیـر مملوکـه ځمکه کې.

۵- بـاطني( پـټ )کانونـه کـه د دې کـاني جـوهر تصفیه وغـواړي او کـه نـه، یـوازې پـه کنـد لـو او عمـل سـره د دې څـوک مالـک جوړېـدای نـه شـي؛ امـا کـه یوڅـوک مـواتي ( نآبـاده ) ځمکـه احیـاء او آبـاده کړي او په هغې کې پټ کان ښکاره شي؛ دا شخص یې مالک ګرځي.

**مناقشه**

د مـواتي (شـاړو، نـا آبـاده) ځمکـو د ملکیـت پـه اړه فقهـاء مختلـف نظریـات لـري لـومړی: امـام ابـو حنیفـه رحمـه الله د هغـې ځمکـې احیـاء (ابـادول، ژونـدي کـول) او هغـه پـه خپـل ملکیـت کـې را وسـتل جـایز ګڼـي، چـې هغـه عـادي او لا مالکـه وي، یـا دا چـې د اسـلام پـه دور کـې د یـو چـا ملکیـت وربانـدې تېـر شـوی وي، خـو اوس یـې خاونـد مشـخص نـه وي، بـل دا چـې د کلـي څخـه بـه جـدا وي، دویـم د امـام مالـک رحمـه الله نظـر : د مالکیـانو نظریـه د حنفیـه فقهـاوو لـه نظریـې سـره د مـواتي (شـاړه، نـا آبـاده) ځمکې د ملکیـت پـه هکلـه متفق او یـو ډول ده، دوی هـم وایـي چـې مـواتي ځمکـه بـه عـادي او لا مالکـه وي، د دوی په اند د هغې ځمکې احیاء کـول هـم جایز دي چـې یـو چـا پـه یـو وخـت کـې آبـاده کـړې وي او بیـا دا ځمکـه دوبـاره بېرتـه شـاړه او نـا آبـاده ګرځېـدلې وي. دریـم: د شـافعیه فقهـاوونظر: شـافعیه فقهـاوو د هغه ځمکې احیـاء (ابـادول، ژونـدي) کـول او هغـه پـه خپـل ملکیـت کـې را وسـتل چـې هغـه نـه پـه موجـوده وخـت کـې معمـوره او آبـاده وي او نـه تـردې مخکـې چـا آبـاده کـړې وي، د داسـې ځمکـې آبـا دول او هغـه پـه خپـل ملکیـت کـې را وسـتل جـایز او صـحیح دي؛ امـا د دوی پـه آنـد کـه چېـرې د جاهلیـت پـه دورکـې آبـاده شـوې وي؛ بیـا اظهـر قـول دا دی چـې د احیـاء (ابـادولو، ژونـدي کولـو) پـه واسـطه یـې ملکیـت ګرځـي، خـو پـه دې شـرط چـې کفـار بـه ورڅخـه د فـاع نـه کـوي، څلـورم د حنابلـه فقهـاوو نظریـات : حنابلـه فقهـاء د مـواتي (شـاړې) ځمکـې د احیـاء کولـو او هغـه پـه خپـل ملکیـت کـې د را وستلو په اړه قیودات او شرایط بیانوي.

زما په آند که چېرې دا سې یوه مواتي ( شاړه) ځمکه شتون ولري چې کوم معلوم او مشخص مالک و نه لري او نه وریورې د کوم شخص ار تفاقي حقوق تړلي وي؛ نو که د دلایلو عموم ته وکتل شي د داسې ډول مواتي (شاړې) ځمکې احیاء او آبادول د یو اسلامي دولت د هر فرد لپاره جایز دي چې هغه آباده کړي.

دا چې د مواتي ځمکو په احیاء کولو کې د امام اجازه شرط ده، دا یوه اختلافي مسئله ده فقهاوو په دې برخه کې مختلف نظرونه څرګند کړي دي :

لومړی نظر : د امام ابو حنیفه رحمه الله دی، هغه وایي: د مواتي ځمکو په احیاء کې د امام اجازه شرط ده،که څوك د امام( حکومت )او یا د هغه د نایب له اجازې پرته مواتي ځمکه احیاء کړي؛ د هغې مالك کېدای نه شي.

دوېم نظر : د امام شـــافعي ، امام احمد بن حنبل، امام ابو یوســـف او امام محمد رحمهم الله دی، دوی وایي: مواتي (شـاړه) ځمکه که څوك احیاء (اباده) کړي په مجرد احیاء (اباده ولو) د هغې مالك گرځي که دا احیاء کول یې د امام په اجازه وي او که د امام په اجازه نه وي، درېم نظر : د امام مالك رحمه الله نظر او مســـلك دی:

د امام مالك رحمه الله نظریه او مسلك دا دی چې مواتي (شاړه) ځمکه په دوه ډوله ویشل شوې ده.

مواتي (شـاړه) ځمکه به یا له آبادیو څخه لیرې وي او یا به دغه مواتي ځمکه آبادیو ته نږدې وي؛ د امام مالك رحمه الله نظر د دې دواړو په هکله دا دی، که د آبادیو څخه مواتي ځمکه لیرې وي د امام اجازه په کې شرط نه ده، که چېرته مواتي ځمکه آبادیو ته نږدې وي؛ بیاپه کې د امام اجازه شـــرط ده، څکه چې گډوډي او نزاع واقع نه شي او مخه یې ونیول شي، زما په اند که د آحادیثو ظاهر او عموم ته وکتل شي د جمهورو علماوو قول غوره او راجح ښکاري، هغه دا چې د مواتي ځمکو په احیاء کولو کې د امام اجازه شرط نه ده .

**پایله**

د احیاء الموات( شاړې ) ځمکې د آبا دولو په اړه شرعي نصوص شتون لري او ثابت دي.

خو هغه ځمکه چې د احیاء( آبادولو ) په واســطه د یو چا ملکیت گرځېدلی وي؛ خو خاوند یې ورڅخه گټه نه اخلي، همداســې یې پرېښــې وي، د احیاء کوونکي د غفلت په وجه احیاء شــوې ځمکه د بیا ځل لپاره شــاړه( ناآباده )وگرځي، په دې هکله د فقهاوو دوه ډوله نظرونه موجود دي، لومړی نظر د امام مالك رحمه الله دی، هغه وایي: کله چې یوه مړه ځمکه احیاء( آباده ) شي، بیا بېرته مواتي ځمکه ترې جوړه شي مخکې له دې چې ملکیت یې د احیاء کوونکي نه غیر بل چاته انتقال شي د لومړی احیاء کوونکي ملکیت ختمیږي او هر شخص کولای شي چې د احیاء کولو په واسطه یې ترخپل ملکیت لاندې را ولي، دا داسې مانا لري، لکه: د سر نه چې آباده شوې نه وي، دا د موات( شاړې ) ځمکې سره برابره ده، دویم نظر دجمهورو فقهاوو دی( امام ابوحنیفه، امام شـــافعي او امام احمد رحمهم الله ) ، دوی وایې که یو ســـړی یوه شـــاړه ځمکه د احیاء (ژوندي کولو) د شـرطونو په پام کې نیولو سـره آباده کړي؛ نو دا ډول آبادی کول د ملکیت د نورو اسـبابو په څیر یو سبب دی، کله چې دا ملکیت د یو شخص لپاره د احیاء کولو په واسطه ثابت شي، که چېرته د احیاء کوونکي د غفلت په وجه احیاء شوي ځمکه بېرته نا آباده شي، بیایې هم له ملکیت څخه نه وځي زما په نظر د جمهورو قول راجح دی.

ښکاره کانونه له هغه کانونو څخه عبارت دي چې ښکاره وي او پرته له کوم مشقت او زحمت نه ورته لاس رسي او خلک وخت په وخت ورځي او ګټه ورڅخه پورته کوي، لکه: مالګه، اوبه، کبریت، قار، نفت، رانجه، یاقوت اودې ته ورته نور شیان، د احنافو او حنابله فقهاوو په اند دا ډول معادن د احیا ء په واسطه د چا ملکیت کېدای نه شي او نه يې چاته اقطاع( بخشش )ورکول جواز لري، بلکې ټول خلک به ترې په مشترک ډول ګټه اخلي، ځکه دا د ټولو خلکو ترمنځ مشـــترک دي، هر څوک حق لري چې د خپلې اړتیا په اندازه ترې ګټه واخلي، د امام شـــافعي رحمه الله په اند که ابادوونکي ته دا معلومات نه وي چې دلته معدن شـــتون لري او د ځمکې د آبادېدو په وخت کې په کې کان پیدا شـــي د آبادوونکي ملکیت کېږي، که چېرې ورته له مخکې معلومات موجود وي، چې دلته کان شتون لري بیاېي ملکیت نه کېږي، د امام مالک رحمه الله نظر دا دی چې د دې واک او صلاحیت د مسلمانانو د امام سره دی، که چاته یې بخشش کوي او که همداسې یې پرېږدي، که هغه په مملوکه ځمکه کې وي او که په غیر مملوکه ځمکه کې .

**وړاندیزونه**

۱ـــــ دولت ته مې وړاندیز دادی چې د تلویزیون، رادیو ګانو، انټرنېټ، ټولنیزو شبکو او د مختلفو پروګرامونو د دایرولو له لارې د شاړو ځمکو په اړه خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي.

۲- د هیواد شاروالیو ته مې وړاندیز دادی چې د شاړو ځمکو په اباده ولو کې هڅه وکړي ترڅو هیواد اقتصاد مو پیاوړی شي.

۳- د هېواد شتمنو او بډایه خلکو ته مې وړاندیز دادی، چې په شاړو ځمکو ابادولو باندې پانګونه وکړي تر څو مو هېواد بډایه او وګړو ته یې د کار زمینه برابره شي.

۴- د هېواد عام وګړو ته مې وړاندیز دادی چې د خپلو سیمو شاړې ځمکې په زراعت سره ابادي کړي تر څو مو په هیواد کې زراعتي محصول زیات شي.

## ماخذونه

القرآن الكريم.
ابن فارس، أحمد بن فارس بن زكريا. معجم مقاييس اللغة، المحقق: عبد السلام محمد هارون. بيروت: دار الفكر( ١٣٩٩هـ ق).
ابن قدامة، عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد .. المغني. لبنان بيروت، دار الفكر( ١٤٠٥ هـ ق ) .
ابن قدامة، عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد..المغني.. لبنان بيروت، دار الفكر( ١٤٠٥ هـ ق) .
ابن مفلح، إبراهيم بن محمد بن عبد الله بن محمد ابن مفلح أبو إسحاق برهان الدين. المبدع شرح المقنع. دار عالم الكتب الرياض،(1423هـ ق ) .
ابوزهرة، محمد..الملكية ونظرية العقد في الشريعة الاسلامية، دار الفكر العربي، القاهرة،( ١٩٩٦م ).
أحمد مختار ، د أحمد مختار عبد الحميد عمر. معجم اللغة العربية المعاصرة. عالم الكتب،( ١٤٢٩هـ ق).
الأصبحي، مالك بن أنس بن مالك بن عامر . ( ب ت ).المدونة الكبرى، محقق: زكريا عميرات. لبنان بيروت: دار الكتب العلمية.
البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله.. الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه. المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر. الناشر : دار طوق النجاة،(1422هـ ق).
البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي..السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي. مؤلف الجوهر النقي: علاء الدين علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني. الناشر : مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد،(1344 هـ ق).
الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك الترمذي أبو عيسى . سنن الترمذي. محقق: بشار عواد معروف. لبنان بيروت: دار الغرب الإسلامي،( ١٩٩٨ م ).
التويجري، محمد بن إبراهيم بن عبد الله التويجري .. موسوعة الفقه الإسلامي،بيت الأفكار الدولية ( ١٤٣٠ هـ ق).
التويجري، محمد بن إبراهيم بن عبد الله التويجري مختصر الفقه الإسلامي في ضوء القرآن والسنة. دار أصداء المجتمع، المملكة العربية السعودية، ( ١٤٣١هـ ق ).
الجندي، خليل بن إسحاق الجندي . مختصر العلامة خليل في العبادات على مذهب الإمام مالك. محقق: أجمد جاد. القاهرة ، دار الحديث ( ١٤٢٦هـ ق).
الخصكفي، محمد علاء الدين بن علي الحصكفي . . الدر المختار،لبنان ـــ بيروت: دار الفكر( ١٣٨٦ هـ ق) .
د افغانستان د سترو علماو يوه ډله، كابلی تفسير . نظر ثاني : مولانا سيد عبيد الله شاه، چاپ خانه: د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد د قرآن كريم د طباعت لپاره،(١٤١۴ هـ ق).
د افغانستان د سترو علماو يوه ډلهكابلی تفسير. نظر ثاني : مولانا سيد عبيد الله شاه، چاپ خانه: د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد د قرآن كريم د طباعت لپاره، (١٤١۴ هـ ق).

زيدان، عبد الكريم زيدان.المدخل لدراسة الشريعة الاسلامية. مؤسسة الرسالة، لبناب بيروت.( ۱۴۲۴هـ ق ).

السِّجِسْتاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (ب - ت). سنن أبي داود. المحقق: محمد محيي الدين عبد الحميد. الناشر: المكتبة العصرية، صيدا - بيروت .

الشافعي، أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي. الام. لبنان بيروت: دار المعرفة،(۱۳۹۳ هـ ق ).

الشربيني، شمس الدين محمد بن أحمد  الخطيب القاهرى الشافعي.(ب - ت). الإقناع في حل ألفاظ أبي شجاع. تحقيق : مكتب البحوث والدراسات. لبنان بيروت : دار الفكر.

الشوكاني، محمد بن علي بن محمد .( ب - ت ). نيل الأوطار من أحاديث سيد الأخيار شرح منتقى الأخبار. إدارة الطباعة المنيرية.

الغنيمي، عبد الغني الغنيمي الدمشقي الميداني . ( ب - ت ). اللباب في شرح الكتاب. ج ۱. المحقق : محمود أمين النواوي. دارالكتاب العربي.

قلعجي، محمد قلعجي. معجم لغة الفقهاء. ج ۱. لبنان: دار النفائس للنشر والتوزيع ، شارع فردان،( ۱۴۰۵هـ ق).

الكاساني، علاء الدين أبي بكر بن مسعود. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. ج ۶. لبنان بيروت: دار الكتاب العربي،( ۱۹۸۲م)..

لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية، مجلة الأحكام العدلية. المحقق: نجيب هواويني. نشر كوونكي، نور محمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ، كراتشي .

الماوردى، العلامة أبو الحسن .(ب ت). الحاوى الكبير. لبنان بيروت: دار الفكر .

النسائي، أحمد بن شعيب أبو عبد الرحمن النسائي.. سنن النسائي الكبرى.تحقيق : د.عبد الغفار سليمان البنداري. سيد كسروي حسن. الناشر : دار الكتب العلمية – بيروت(1411 هـ ق).

يحيى بن آدم، أبو زكرياء يحيى بن آدم بن سليمان القرشي بالولاء، الكوفي الأحولالخراج. المطبعة السلفية ومكتبتها.( ۱۳۸۴ هـ ق).